International Journal of Human and Society (IJHS)

| P-ISSN: 2710-4966 | E-ISSN: 2710-4958 |
| --- | --- |
| Vol. 3. No. 04 (Oct-Dec) 2023 | Page 72-77 |


# The Image of Pashtoon’s Civilization in the writings of Khushal Khan Khattak

| | |
| --- | --- |
| Israr Ullah | Ph.d Scholar, Pakhtunkhwa Study Center, Bacha Khan university charsadda. |
| Dr Faqir Muhammad | Lecturer, Pakhtunkhwa Study Center, Bacha khan university Charsadda. |


**Abstract:** *Khushal Khan Khattak (1022 to 1100 AH) was a Scholar, Intellectual, Translator, Leader, Writer, Poet, Physician, General, Hunter, Philosopher, Pashtun scholar, Sociologist, Anthropologist, Linguist, Geographer and Politician. He has written up to twenty books on various topics. In which we want to show Pashtun civilization.*

*Khushal Khan Khattak is one of the oldest and classic writers whose works traces The Pashtun civilization. We want to know how a Pashtun chief looked at his civilization three and a half hundred years before today? What was the Civilization of the Pashtuns at that time? This will reveal us whether there have been any changes in the civilization of Pashtuns in these few centuries or not?*


**Keywords:** Civilization, Pashtoon Civilization, Khushal Khan Khattak.

تهذيب د عربي ژبې ټکے دے چې ماده يې " هذب" ده، د هذب معنې ښاخ تراشي، صفا کول، تراشل وغېره دي[1] يعني د ونې نه چې مونږ ښاخونه صفا کاوو نو دې د پاره چې ښائسته شي يا مېوه ونسي يا نور فصل پۀ ښيا ښيا راکړي، د قيصر اپريدي پۀ قول وروستو د تهذيب دا ماده " هذب" پۀ "ادب" بدله شوه۔ يعني د " ه" پۀ ځاے " ا" راغے او ادب ترې جوړ شو ۔ چې ادب هم د انسان د ښکلا او ذهني ترقۍ نوم دے۔[2] انسان د خپلې بقاء، خوشحالۍ، سوکالۍ او ضروریاتو تر مخه يو شمېر مادي او غېر مادي ايجادات وکړل چې ورته " تهذيب " وئيلے شي۔

سبط حسن وايي چې تهذيب د ټولنې د اجتماعي تخليقاتو او اقدارو نچوړ وي[3] يو بل ځاے ليکي چې د يوې ټولنې بامقصده تخليقاتو او د سماجي اقدارو نظام ته تهذيب وئيلے شي چې د ټولنې د ژوند او فکر و احساس جوهر وي لکه ژبه، آلات و اوزار، د پيدوار طريقې،سماجي رشتې،رهن سهن، فنون لطيفه، علم و ادب، فلسفه و حکمت، عقيدې او جادوګانې، اخلاق او عادتونه، رسمونه روايات، د مينې محبت سلوک او خانداني تعلقات

وغیره د تهذیب مظهرونه وي.[۴] ټولن پوه اي بي ټېلر( E.B Tylor ) تهذیب د علم، عقیدې، فن، اخلاق، قوانینو، رسمونو او هغه ټولو صلاحیتونو او طور طریقو مجموعه ګڼي چې انسان یې د ټولنې د یو وګړي په حیث اطاعت کوي.[۵] د امریکې مشهور لیکوال ویل ډیورینټ په خپل مشهور کتاب "The story of Civilization" کښې په وړومبي باب "Our oriental Heritage" کښې لیکي چې تهذیب یو ټولنیز نظم دے چې د کلتور رامینځته کولو ته وده ورکوي. څلور عناصر یې تشکیلوي: د اقتصاد فراهمي، سیاسي تنظیم، اخلاقي دودونه او د علم او هنر تعقیب.[۶]

تهذیب د انسان د ارتقاء سره سم را روان دے. د کاڼي زمانې د دور نه تر نن ورځې انټرنیټي دور پورې انسان ملیونونو کالونو سفر او ایجادات وکړل او نن په سپوږمۍ او مریخ کښې ګرځي. دا سفر د لرغون پوهنې او تاریخ پوهنې د پوهانو له خوا په دریو غټو دورونو ویشل شوے دے. ۱ د کاڼي زمانه، ۲ د زئیړو زمانه، ۳ د اوسپنې زمانه ( نن سبا د بارودي زمانې دور هم بئیل دور ګڼل کېږي ) په دې سفر کښې د څۀ خاص وخت د پاره د څۀ ځاے، قام یا هیواد خپل خپل کردار او مقام دے. چې د هغې په مناسبت سره ورته د هغې ځاے، قام یا هیواد تهذیب وئیلے شي. دلته مونږ د خوشحال خان خټک د عصر پورې د پښتنو تهذیب ګورو چې هغه وخت د پښتنو مادي تهذیب ( کور، عمارت، رباب، منګے، وسله،کالي پټري وغیره) او غیر مادي (ادب، موسیقي، کلتوري اقدار، سیاسیات، دود دستور، جمالیات وغېره) څۀ وو؟ د خوشحال خان خټک په اثارو کښې د یو شمېر نړیوالو تهذیبونو عکسونه ښکاري لکه یوناني، رومي، اسلامي، مشرقي او بیا په مشرق کښې د پښتون تهذیب بشپړه عکاسي شوې ده. دلته یې د نمونې په توګه څو اړخونه وړاندې کاوو.

## جرګه:

جرګه د انساني تهذیب د کوم وخت ایجاد دے؟ چا په وړومبي ځل د جرګې مفکوره وړاندې کړه؟ دا ټاکل ټهوسو شواهدو ته اړتیا لري خو د دې وړومبۍ نخښې یې په یوناني، بیا رومي او بیا اسلامي تهذیبونو کښې په نظر راځي. ځکه تر نن ورځې د شواهدو تر مخه جرګه مونږ د یوناني تهذیب ایجاد یا اختراع ګڼلے شو. انسان چې کله د کاڼي د زمانې د ځنګلي دور نه را ووتو او کور بیا یې کلي اباد کړل، نو اوس د شریک ژوند له کبله یو شمېر مسئلې هم راپېښېدل شروع شول چې د هوارولو د پاره یې څۀ اصول او قواعد هم جوړ کړل .نو دا مسئلې به یې د دې اصولو او قواعدو په رڼا کښې د جرګې له لارې هوارېدې. دې نه علاوه د کلي یا د علاقې د پاره اصول یا شریکې فیصلې به هم د جرګې له لارې کېدې. جرګه د صلاح و مشورې و فیصلې نوم دے.

جرګه د پښتني تهذیب په مهمو توکو کښې ده. دا مفکوره کۀ چا هم او کله هم ایجاد کړې خو پښتنو دا ټولنیز رسم داسې خپل کړے چې نن هم ډېر پښتانۀ په جرګو خپلې مسئلې هواروي.

خوشحال خان خان جمهوریت پسنده انسان دے. د صلاح مشورې قایله دے ځکه په دستارنامه کښې اول خصلت د مشورت راوړي. دې نه علاوه وایي:

بندوبست د کائنات دے په خبرو
یو تر سله صدقه شه سل تر زرو[۷]

جرګه او مصلحت د مسئلو د هوارولو د پاره وي:

مصلحت لکه توپک دے
ستا مراد لکه نخچیر
کۀ دې ښۀ ګزار پکار وي
تر اول یې کړه ښۀ ځیر
پۀ ګوزار کښې هول مه کړه
پۀ خپل ځان اوسه خبیر
نور ماشه کړه باندې کوزه
لر و بر مه کړه نظیر
زۀ خوشحال خټک ضامن یم
کۀ خطا دې شي یو تیر[۸]

خوشحال؛ پۀ خپل ژوند ډېرې جرګې مرکې کړې دي ـ جرګه کښې برکت ګڼي، چرته چې جرګه وي هلته د خوشحال زړۀ خوشحاله وي ـ بې جرګې بې مشورې کار کول نۀ خوښوي، د ښځو پۀ جرګه کښې شرکت کول نۀ مني، جرګې د پاره عام خلق سیال نۀ ګڼي بلکې د حسب نسب او له سیاله خلقو نه جنګ ګټونکي خلق سیال ګڼي، مذهبي خلق (ملا، درویش وغېره) پۀ حېث د جرګه مار نۀ مني ـ کۀ څۀ مسله یا خبره پۀ جرګو مرکو هواره نۀ شي نو پۀ توره (پۀ زور) یا پۀ خدا ے یې حل کول مناسب ګڼي ـ

خوشحال نظر لري چې مشوره او جرګه برکت لري:

بې کنګاشه به هېڅ کار پۀ لاس وانخلې
چې خبر دے د کنګاش پۀ برکت [۹]

چرته چې جرګې پنډې شي هلته د خوشحال زړۀ هېنډې کوي:

پرې مې سلام دے جرګې چې پنډې شي
زړۀ مې هورې وي هورې چې هنډې شي[۱۰]

د ښځو پۀ جرګو نۀ شرکت خوښوي، نۀ ورسره مشوره کول مناسب ګڼي، تر دې چې کومه ښځه پۀ جرګو ګرځي، کښېني پاڅي، هغه کور ته هم نۀ پرېږدي:

چې د ښځو نه بد تر دي هغه څوک دي
چې د ښځو سره کا مصلحتونه[۱۱]

د خوشحال د اثارو نه واضحه ده چې هغه وخت به ښځې هم پۀ جرګو ګرځېدې چې خوشحال ورته پۀ سم نظر نۀ ګوري لکه وایي:

"...لا پۀ تېره هغه چې د مردانو پۀ جرګو ګرځي، هغه خو دې پۀ ورۀ نۀ پرېږدي..." [۱۲]

د خوشحال جرګه مار پۀ خپل ځان ننګیالے، توریالے او د حسب نسب سړے پکار دے.

د سیالانو پۀ جرګه دې ناستے نۀ کا
چې له سیاله نه یې، نۀ وي خپل ګټلي[۱۳]

د خټک د ننګ جرګه نشته خوشحاله
راوتلي دي له کومو نسبونو[۱۴]

درویش پۀ جرګه کښې نۀ خوښوي:

هر درویش چې د اولس پۀ جرګو ګرځي
یو پیرے دے چې و هرې لور ته ګرځي[۱۵]

جرګه مار سړے ځوان پکار وي:

خوشحاله! زوړ شوې قرار ناست اوسه
پښتون چې زوړ شي د نغري د څنډې شي[۱۲]

او کۀ بیا هم څۀ مسئله پۀ جرګو مرکو حل نۀ شي نو
پۀ توره يې هوارول غواړي یا يې پۀ خدا ے سپاري:

یا تکیه د یوۀ خداے ده یا د تورې
پۀ جرګو مرکو به نۀ شي کار تمامه[۱۷]

**حجره:**

د انساني تهذيب پۀ ارتقائي سفر کښې مونږ وليدل چې انسان کله هم د تهذيب دايرې ته راننوتو او رشتې پالل يې شروع کړل نو د مېلمنو د پاره يې د حجرې یا مهمان خانې تصور هم ذهن کښې راغلو ـ پۀ پښتني تهذيب کښې د حجرې خاص مقام او تصور دے چې کۀ د چا حجره نۀ وي نو غريب، بې پښتو او بېنوا ګڼلے شي ـ یعني پښتانۀ چې کور جوړوي نو حجره هم ورسره خامخا جوړوي۔د پښتنو حجره د ارام، ساعت تيرې، جرګو مرکو او مېلمستيا خاص ځاے وي۔

د نړۍ پۀ نورو تهذيبونو کښې د حجرې څۀ نه څۀ تصور شته خو کوم چې پۀ پښتني تهذيب کښې دے داسې پۀ بل تهذيب یا ټولنه کښې نشته۔د خوشحال پۀ اثارو کښې هم د حجرې بشپړ تصور مخې ته راغلے دے چې حجره دې د کور نه پۀ دومره فاصله وي چې د کور د ماشومانو او زنانه اوازونه تر حجرې نۀ رسېږي او د مېلمنو اوازونه تر کور نۀ رسېږي۔د حجرې غولے ستر پکار دے چې د مېلمنو اسونه هم پۀ کښې ځاے کېدے شي ـ دستار نامه کښې وايي:

"...خلوت خانه دې د عیال د خونې، د ديوان خانې تر ميان وي، مهمان خانه عليحده پۀ مفاصله تر ديوان خانه وي، نۀ ډېر لرې نۀ نزدې، چې د مېلمنو اواز تر ديوان خانه نۀ رسېږي، ديوان خانه دې هسې لرې وي چې د محل د عيال، د لوے د هلک اواز ترې نۀ رسېږي...د مهمان خانې ځاے دې وسيع، غولے لوے، حجرې ډېرې پکښې، طبيله دا هم بې تکلف وي،چې مېلمانۀ پکښې فراغت اوسي، اس يې ځاے شي، جدا جدا پۀ هره حجره کښې ځاے ونيسي، خوراک دې يې پۀ ديوان خانه کښې وي ـ چې ښۀ مکرم مېلمه وي مجلس دې يې پۀ خلوتخانه کښې وي..." ۱۸

خوشحال ؛ حجره د خوب او ارام د پاره هم يادوي:

"...د خوب حجره بېله تر نور کوره، کۀ ډېر کورونه وي، واړه سره بېل بېل سويه، برابري له واړو ..."
۱۹

د خوشحال پۀ نزد حجره د فراغت، د ارام او مېلمنو د پاره وي۔د پښتنو د هر کور سره حجره لازمي څيز ګڼي۔د مېلمنو حجره د کور نه پۀ فاصله او د خوب حجره بېله تر نور کوره يادوي۔

دا فاصله ځکه يادوي چې نن هم د پښتنو پۀ نيم ښاري، نيم متمدن یا نيم مهذبو او کليوالو ټولنو کښې د کور د زناناؤ اوازونه تر حجرې رسېدل، بد ګڼلے شي۔خوشحال کلک پښتون دے۔د زناناؤ پۀ معامله کښې حساس دے ـ روشن خياله او ترقي پسند دے خو د روشن خيالۍ پۀ هغه مقام نۀ دے ولاړ کوم چې د نني عصر مجبورۍ یا تقاضې دي لکه ښاري ژوند کښې د کور او حجرې فاصله ساتل ناممکنه دي او دا د وخت بېلابېلې تقاضې هم وي۔ د خوشحال عصر د نن نه درې نيم سوه کاله مخکښې

وهٔ نو مونږ ترې نه د موجوده تهذيبي رجحاناتو توقع نهٔ شو ساتلے۔

**بدرګه:**

د پښتني تهذيب پهٔ توکو کښې ځينې توکي خالص د جغرافيې له کبله دي لکه بدرګه ۔ دا خالص د پښتني تهذيب توکے دے۔ چونکه د پښتنو جغرافيه د دوو لويو تهذيبونو ايران او هند پهٔ مېنځ کښې پرته ده، پهٔ دې وجه چې دلته ځوک هم راغلي نو مقامي خلقو پهٔ يو نوم پهٔ بل نوم لوټلي دي۔ چونکې د پښتنو دا لارې ابادې او محفوظې نهٔ وې نو دلته به غلهٔ ډاکوان ډېر وو ۔ چې وروستو اکبر باچا دا علاقه اکوړ خان ته وسپارله۔ [۲۰]

د بدرګې پهٔ اړه د پښتو اکېډمي لغت ليکي:

" بدرقه: بدرګه، حفاظتي دسته، هغه ټولے چې د چا حفاظت د پاره چا سره ځي"[۲۱]

ډاکټر بدرالحکيم حکيمزے پهٔ خپل کتاب " پشتونولي" کښې د بدرګه پهٔ اړه وايي:

" معاضه ليکر يا بلا معاوضه کسی دشمن دار شخص، مسافر يا قافله کی جان و مال کی حفاظت کرنے کو بدرگه کهتے ہيں۔ اس ميں چند مسلح افراد کسی شخص کو ايک مقام سے دوسرے مقام تک بحفاظت پہنچانے کی ذمه داری قبول کرتے ہيں۔۔۔ [۲۲]"

ژباړه: د معاوضې يا بغېر د معاوضې د يو دشمنداره سړے، مسافر يا قافلې د جان او مال حفاظت کولو ته بدرګه وايي، پهٔ دې کښې ځو وسلوال کسان د سړي د يو ځاے نه بل ځاے ته پهٔ حفاظت سره رسولو ذمه واري اخلي۔

دا يو زوړ پښتني قدر دے چې د خوشحال پهٔ اثارو کښې هم پهٔ هم دې موجوده ډول او معنو کښې راغلے دے لکه فرښتې چې د انسان سره به پهٔ پل صراط بدرګه کوي:

فرښتې به ورسره وي
خوښ به دے پهٔ بدرګه وي [۲۳]

يا دا چې پهٔ خونخوارو لارو تللو د پاره خلق بدرګه کولے شي:

بدرګه کهٔ محبت راسره نهٔ وے
يک تنها به پهٔ خونخوارو لارو تلل ځوک [۲۴]

دا پښتنے رسم يا دود د خوشحال پهٔ زمانه کښې موجود وهٔ، ځکه يې خوشحال ذکر کوي او خوشحال پخپله چې کله هند ته د قيدي پهٔ توګه روان کړے شو نو پهٔ لاره کښې خطره وه چې خټک يا نور پښتانهٔ به حمله وکړي نو ځکه مستجاب مومند ورسره بدرګه شو چې خوشحال له اټکه واړوي:

هند ته يې روان کړم بدرګه مې مستجاب
هم ملک هم خان هم د همه غوري ارباب[۲۵]

بدرګه کښې د څهٔ کار ذمه واري اخستل کېږي۔ دا د اعتماد او لوظ يو ډول دے ۔ پښتانهٔ پېغور نهٔ زغمي، بې قولي او بې لوظي بې پښتو کارونه ګڼي ځکه دې ذمه وارۍ د پاره ايماندار او بهادر جوړېدل لازمي عناصر دي۔ ځکه خوشحال وايي چې کهٔ دې سر ځي کهٔ دې مال ځي پرواه نشته خو پهٔ رفاقت او بدرګه کښې استوار اوسېدل پکار دي چې دا د پښتني تهذيب ( پښتونولي) تقاضه ده:

کهٔ دې سر ځي،کهٔ دې مال ځي، کهٔ دا نور څهٔ
استوار اوسه پهٔ کار د رفاقت[۲۶]

خوشحال؛ پښتون او مسلمان سردار دے۔ د نیمې لار ملګرتیا پېغور ګڼي، ځکه پهٔ دې دود پهٔ ایماندارۍ سره عمل کولو درس ورکوي۔

وسله:

وسله؛ د انساني تهذیب د کاڼي د دور نه شروع شوې ده۔ د کاڼي پهٔ زمانه کښې به وسله د صرف د ځان ژغورنې د پاره کاورل کېده، وروستو انسان چې کله د زمکې قبضه او دعوې وکړه او مالک شو نو جنګونه یې هم شروع کړل۔ پهٔ نني دور کښې هم مونږ وینو چې پښتانهٔ د زمکو، د عزت او وسایلو د پاره جنګونه کوي او دې د پاره وسله ساتي۔

د خوشحال پهٔ دور کښې د پښتنو ټولنه پهٔ نیم متمدنه حالاتو کښې وه ۔ ریاستي انتظام او عملداري صرف د سرکاري ځایونو او خلقو پورې محدود وو ۔ پښتنو به د ځان ژغورنې او وسایلو ساتلو یا ګټلو د پاره وسله لازمي ساتله۔ د پښتنو پهٔ وسلو مئیندلو کښې که یو خوا د ریاستي نهٔ شتون وجه ده نو بلخوا یې خپله جغرافیه ده، چې د دوو لویو تهذیبونو هند او ایران پهٔ مېنځ کښې پرته دي۔ پهٔ هم دې وجه دلته یرغلګر راغلي او پښتانهٔ ورسره پهٔ جنګ کولو مجبور شوي۔بل خوا اسلامي تعلیمات دي چې د جهاد او مال غنیمت تصورات یې وړاندې کړي نو پښتانهٔ زیات جنګونه د جنت او جهاد پهٔ نوم هم کوي او دې د پاره وسلې ساتي۔

خوشحال؛ د پښتني تهذیب د تقاضو عین مطابق د هر پښتون د پاره وسله ساتل، د وسلې پهٔ چلولو کښې مهارت درلودل او پهٔ وسله مئیندل لازمي ګڼي ۔دے وایي:

چې مئین پهٔ وسله نهٔ وي
مرد دې نهٔ وایي و ځان ته
لاس دې سرهٔ کا سترګې تورې
ځان دې وجوړوي ځوان ته[۲۷]

پهٔ دستارنامه کښې د " هنر د شجاعت" کښې وایي:

"...جنت د تورو تر سایه لاندې دے..."[۲۸]

پهٔ هم دې هنر کښې بیا وایي چې د دې دنیا او د دې انسانانو د قیام او انتظام د پاره چې څومره علم ضروري دے دومره توره۔ یعني دواړه د انسان او جهان د پاره لازمي څیزونه ګڼي:

"...جهان پهٔ دوه توکه انتظام او قوام لري۔ پهٔ علم پهٔ توره۔ کهٔ توره نهٔ وي علم بې قوت دے، قوت یې توره دے، د علم څښتن مختاج د تورې د څښتن دے، د تورې څښتن مختاج د علم د څښتن دے،ښهٔ ځوانان هغه دي چې دواړه توکه لري، پهٔ یو لاس کتاب پهٔ بل لاس توره..."[۲۹]

خوشحال؛ د وسلې د ساتلو پهٔ اهمیت پوهه دے۔ ځکه یې پهٔ شاعرۍ کښې د یو شمېر وسلو ذکر راغلے چې هغه وخت به پښتنو استعمالولې لکه خنجر، جمدر، غشے، منجنیق، توره، زغره، توپ، ټوپک وغیره۔

خوشحال چې کله د مغلو خلاف د ازادۍ مبارزه پېل کړه نو پهٔ ښکاره یې ووئیل چې پښتانهٔ به د مغلو نه د تورې پهٔ زور ځانونه خلاصوي ځکه چې بله لار نشته چې پښتانهٔ ازادي ترلاسه کړي:

پښتانۀ چې نور څۀ فکر کا ناپوهه دي
بې د تورې خلاصے نشته پۀ بل کار[۳۰]

وسله؛ د پښتني تهذيب پۀ مهمو توکو کښې راځي . د خپلې جغرافيې، اسلامي تعليماتو او رياستي علمدارۍ نۀ شتون له کبله پښتون اړ دے چې وسله وکاروي ځکه خو متل هم کوي چې " وسله کۀ بار ده خو پکار ده"[۳۱] او ځکه خوشحال خان خټک هم د وسلې اهميت پۀ ګوته کوي چې وسله ساتل، د وسلې پۀ چلولو کښې ماهر کېدل ضروري دي.

## کلتوري اقدار:

انسان چې کله د تهذيب پۀ دائره کښې سماجي ژوند ښائسته کول پېل کړل نو د خپلې جغرافيې، عقيدې، ترجيحاتو او رجحاناتو مطابق څۀ اصول او معيارات هم جوړ کړل چې ورته کلتوري اقدار وايي. دا اقدار، جغرافيايي، سياسي، مذهبي او سماجي کېدے شي. دلته زمونږ مراد د خوشحال پۀ اثارو کښې سماجي اقدار دي. د خوشحال پۀ اثارو کښې د پښتني تهذيب يو شمېر نرينه او زنانه کلتوري اقدار تر سترګو کېږي. لکه پۀ نرينه اقدارو کښې د خضاب ځواني ، دستار تړل او پۀ زنانه اقدارو کښې " پان " او " نهالي رنګول" يې دلته کتلے شي.

د خضاب ځواني: سپينې ږيرې ته تور رنګ ورکول.

خوشحال حق پرست او حق شناس دے. د خوشحال پۀ نزد دا کار فريب دے. د حقيقت نه سترګې پټول دي. ځکه پۀ داسې خلقو بد رد وايي:

د خضاب ځواني د چا ده ؟ د احمق ده
تر دا کله ږيره ښه پۀ ښه نايي ده[۳۲]

دستار تړل: پۀ پښتني تهذيب کښې دستار ته ډېر اهميت حاصل دے. ځکه ورته پۀ دروند نظر کتلے شي. دا دود کۀ څۀ هم د اسلامي تهذيب د اثراتو له کبله دے خو د پښتني تهذيب هم مهم توکے دے. دستار د خپل جوړښت له کبله پۀ منډوس او لنګۍ هم ياد شوے دے. چې د پارسايۍ، مردانګۍ او غېرت نخښه ګڼلے شي . د خوشحال د اثارو نه ښکاري چې د دستار کوږ تړل د پښتني غرور او ښائست نخښه ګڼل کېدۀ:

بيا خېره پۀ سر کږه کېږده له خياله
چې خوبا دې پۀ خولۀ نوم واخست خوشحاله [۳۳]
کۀ مردي دې پۀ دستار ده،پۀ منډوسه
سکه مردي دې مبارک، برېتونه پوسه[۳۴]
واړه شملې پرېږدي، برېښوي ورته خپل ځان
ګوره هغه ترکه به نظر کا پۀ کوم ځوان[۳۵]
کږه پګړۍ دې پۀ سر هغه کښېږدي
چې برابرې نېزې وهينه[۳۶]

## زنانه کلتوري اقدار:

پان: يو بوټے دے چې جونو يې د خلې او شونډې سرۀ کولو د پاره خلۀ کښې ږدي يا چکوي.

پخوا زمانه چې به د زنانوؤ د ډول سنګار د پاره Cosmetics نۀ وو نو پښتنې جونو به پۀ " پان " خلې سرې کولې:

بيا به صبر د خوشحال خټک اولجه کا
راخرګنده شوه سره کړې خلۀ پۀ پانو[۳۷]

هغه شونډې چې څائي بې پانو سرې دي
هغه شونډې څۀ حاجت لري و پان ته[۳۸]

نهالي رنګول: دا يو فرسوده رسم دے چې له بده مرغه اوس هم پۀ پښتنو کښې شتون لري۔د ناوې پۀ اوله شپه پرده بکارت ختمول او وينې راتللو ته نهالي رنګول وايي، ناوې ته پۀ وړومبۍ شپه سپين رومال ورکړل شي چې سبا ته پۀ وينو ککړ يې د کور زناناؤ ته وړاندې کړي او دا رقم خپله نيک نامي ثابته کړي۔خوشحال داسې نېک نامې ناوې ته دعا کوي چې خدا ے دې يې ټول عمر داسې نيک نامه وساتي چې څوک ورباندې الزام اونۀ لګولے شي:

ښځه چې ټينګه وي پۀ خپله تنګه
پۀ خپل پالنګ کا نهالي رنګه
حق يې پۀ ځاے کړ د نېکنامۍ
نور يې خداې مه کړه نېکنامي ړنګه[۳۹]

خوشحال پۀ خپله طبيب دے۔د دې رسم پۀ ترديد يا تايد کښې يې څۀ نۀ دي وئيلي، صرف دعا يې کړې ده چې خدا ے دې يې مزيد نيکنامي وساتي۔اګرچې نن سبا د طب ماهرين ټول پۀ دې متفق دي چې دا ډېره نازکه پرده وي او د لږ زور يا وزن اوچتولو يا غورځېدلو پرځېدلو يا حرکت سره ختمېدے شي او پۀ دې کښې زناناو ته ګناه ورکول نۀ دي پکار۔

د خوشحال پۀ اثارو کښې دپښتني تهذيب
بشپړ انځور پروت دے چې ټول پۀ دې مقاله کښې نۀ شي راغونډے لکه ازادي، اتفاق و اتحاد، سياسيات، جماليات، خصلتونه، کالي پټري، بېلابېلې طبقې، فنون لطيفه او مېلمه پالنه وغېره۔ د مشرق پۀ پښتني تهذيب کښې به داسې ډېر څۀ نۀ وي چې خوشحال د خپل پښتني نظر سره بيان کړي نۀ وي۔

## حوالې:


حکیمزے، بدرالحکیم، ڈاکٹر، پشتونولی، عظیم قوم کی عظیم ثقافت، ص:23،22

مرکه، قيصر اپريدے سره،ټيلي فون رابطه، ۱ نومبر ۲۰۲۲ ،ورځ د منګل،غرمه ۱ بجې۔

سبط حسن، ماضی کے مزار، مکتبہ دانیال کراچی، 2021، ص:15

سبط حسن، پاکستان میں تہذیب کا ارتقاء، مکتبہ دانیال، کراچی، 2017، ص:17

https://mitocw.ups.edu.ec/courses/anthropology/21a-01-how-culture-works-fall-2012/readings/MIT21A_01F12_Sir_Edwrd_cul.pdf visited: June 1, 2023.

Durant will,"the story of civilization"Chapter 1, " our oriental Heritage", nill… P:1.

هاشمي،محي الدين،ډاکټر، د خوشحال خان خټک کليات،مېهن خپروندويه ټولنه، پېښور _جلال اباد ، ۲۰۱۸،مخ: ۱۳۲

همدا، مخ: ۸۲۰

همدا،مخ: ۲۲۸

همدا،مخ: ۵۲۳

همدا،مخ: ۷۲۲

همدا، مخ: ۱۳۵۵

همدا،مخ: ۸۰۴

همدا،مخ: ۱۳۸

همدا،مخ: ۹۹۱

همدا،مخ: ۵۲۳

همدا،مخ: ۷۱۰

همدا،مخ: ۱۳۷۰

همدا،مخ: ۱۳۴۸

کاکاخېل ، سید ، سیف الرحمن،د ملک اکو نه تر شیدا، دارالکتب پرنټرز محله جنګي، پېښور، فروري ۲۰۱۷، ص: ۱ تا ۲۲

پښتو اکېډمي لغت،پښتو اکېډمي، پېښور پوهنتون،۲۰۱۹،مخ: ۱۷۵

حکمیزے،بدرالحکیم، ڈاکٹر، پشتونولی (عظیم قوم کی عظیم ثقافت)،مشال ادبی او ثقافتی ٹولنہ، مٹہ سوات، اشاعت سوم، اکتوبر ۲۰۲۰، ص:۳۶

هاشمي، کلیات خوشحال خان خټک، مخ: ۱۰۰۲

هم دا ، مخ: ۸۴۵

هم دا،مخ: ۸۲۲

همدا،مخ: ۲۲۹

همدا،مخ: ۷۸۲

همدا،مخ: ۱۳۲۲

همدا،مخ: ۱۳۲۷

همدا،مخ: ۲۳۹

داود، داور خان، خوشحال او فولکلور، پښتو اکېډمي، پېښور پوهنتون، فروري ۲۰۰۲، مخ:۶۹

هاشمي، کلیات خوشحال خان خټک، مخ: ۲۳۲

همدا ، مخ: ۱۸۴

همدا،مخ: ۱۷۴

همدا،مخ: ۱۲۴

همدا،مخ: ۲۱۲

همدا،مخ: ۱۴۱

همدا،مخ: ۱۵۹

همدا،مخ: ۲۱۲